مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله ارینزی ۲۰۲۳/۱۱/۰۶

د وردګو د واده دود او بدلې

یوولسمه برخه

د ناوې په کور کې د ناوېدود د روځې سهار:

سهار اته بجې مهال کورواله خپلو کلیوالو او مېلمنو ته ډوډۍ پیل کړې وي. په وردګو کې د ناوې په کور کې هم توی پخېږي او خپل- خپلوان ډوډۍ ته رابولي؛ خو توپیر یې د زوم له کور سره په دې کې دی چې هلته نر او ښځې، زاړه او واړه ټول خوشاله وي، ټکونه کوي، اتڼونه کوي، بدلې بولي، درياوې وهي؛ خو دلته د ناوې په کور کلي کې هسې شور زوږ نه وي. یوازې خېښې ښځې په کور د ننه بدلې بولي، ناڅې او له درياوو سره اتڼونه کوي(104).

اوس به کجاوې- کجاوې په اوښ بارېږي
اوس به (... خان) ناوې جوړېږي
*
د چندنو (105) لیر (106) یې جوړه په تندي کړه
د (...) ناوې یې جوړه کاغذي کړه
*
اوس به سناري ګلان غوړېږي
اوس به (... خان) ناوې جوړېږي
ناوې ورو – ورو اونګې وهي او د خپلو – خپلوانو ښځو زړونه نریوي(107). په دې وخت کې کورواله ښځې چې خپلې ښایسته ناوې ته ګوري، کله- کله د هغې د ستاینې بدلې بولي:
په وره(108) کې د خرما ونه وېلاړه (109) ده
په کونج کې (... خان) ناوې وېلاړه ده
کېدای شي چې خېښې هم خپله نوې ناوې همداسې وستایي؛ خو کله نا کله د کورواله وو ښځو د ځورولو او په ناوې کې د ظاهري عیبونو د ښکارولو بدلې بولي:
د موږ د ناوې شنډې (110) غونډې منډې دي
یا: د موږ د ناوې څومره پېړې شنډې دي
ارمان مې د (...) ها سوې منډې دي(111)
*
د موږ د ناوې دوې لوېشتې تندی دی
ارمان مې د (...) ها شین پټی دی
یا: ارمان مې د اوو ډولو غززی دی
کورواله ښځې چې لږ په غوسه وي هم جوړه – جوړه بدلې بولي:
ناوې لکه چنار ودرویه
(...) لکه سپرلی تی(112) جرویه(113)
*
چې وړه وي په شودو یې لویولې
اوس دسې خلکو یووړې چې څونګښې یې خوړلې
*
ناوې د ځوزو لمبه وکړه سرسیه(114) دې شه
زوږ خسر درته ولاړ دی سدکه(115) دې سه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ناوې په کور کې د همدې اخ او ډپ سره جوخت ورا رارسېږي. خېښې چې د ورابيځې د راتګ په وخت پوهېږي او د دوی د ټوپکو ټکهار او د ډولونو غرزی اوري، دا وخت د ورا په ستاينه کې بدلې بولي او کوروالـه وو ته خپل زور ښيي:

د پاسه سواره راغلل سواره ترخې ماتوي
راووزه (... خانه) خانه کوچ دې باروي
*
اسو غوخ کړل د زرباپو ريمالونه
اوس به پيمال کا د (....) د باغ ګلونه
*
موږه بنګالي چلم ډك کړی دی
ميدان د (... خان) تربرو نيولی دی
*
د پاسه اوبه راغلې په سر يې شنې اوبړی راوړې
(... خان) ته ويه راووزه، کلي ته دې شازادګی راغلې

---

[104] په وردګو کې ناوې کوم ځانګړي خواړه نه لري او دا په دغه ماښام چې سبا ته واده کېږي معمولاً د خپل مشرورور، تره يا هغه ترور په کور کې مېلمنه وي چې په همدې کلي کې واده وي؛ خو په کندهار کې ناوې جلا ډوډۍ لري او هغه مغزپلو دی. يعنې ماغزه په وربجو کې ورته ږدي. خلك فکر کوي چې په دې سره به ناوې خپل مېړه او خسرخېلو ته په جګ مغزي او جګه غاړه ورشي او قدر به يې په خپل نوي کور کې زيات شي. (د کندهار فولکلور، ص 26)

[105] چندن- صندل

[106] لير- لار

[107] ور- دروازه

[108] نريوي- نرئ کوي. په کاکړستان کې ناوې له اونکې او ژړا سره جوخت داسې بدلې بولي چې واقعاً سړي خپه کوي او د پښتنو نجونو د غمجن ژوند ترجماني کوي. د دې بدلو ډېرې بېلګې ددې کتاب په پيل کې راغلې او يوه بېلګه يې دا ده:

د سپينې خونې په وره کې غنم پښتنو خود به بوغې وهم
زه له بابکه ګېلې کوم نن شنې روپۍ سوم ويې خوړم

لکه چې وينې په دې بدله کې داسې راغلی دي چې (بابك) پيسې واخستې او زه يې خرڅه کړم.

[109] وېلاړه- ولاړه

[110] شندې- شوندې.

[111] د ناوې د ولور او د واده د نورو لګښتونو له پاره د شنې ځمکې د ګروولو انځور.

[112] تی- ترې.

[113] جرويه- جارويه، جار، قربان

[114] سرسيه- سرسايه.

[115] سدکه- صدقه.

نوربيا

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ